# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Human Rights | حقوق بشر |
| --- | --- |



تلیاد داد نورانی

۲۶ جولای ۲۰۱۷

# ښځې عجبه جرئت درلود!

**«کابلیان یې په وینو لیکي»**

سپین ږیري په وارخطایی کله ما، کله زما موټر ته کتل او څه یې نه ویل. ما پر بارکشانو ناري وهلي: ژر ژر یې بار کړئ! که پر لاري راباندې شپه شوه، د کابل مخ به و نه وینو. سپین ږیري هره شیبه لاس جیب ته وړ، په ګوتو یې ژر ژر څه شمیرل. د هغه مالیخولیایی حالت زه اندیښمن کړم چې دا سړی به زما کرایه راکړي که نه؟

د مېپلیو او پولیو وروستی ګونی بار شوې. لا مې رسی نه وې تړلې چې دوې د پاخه عمر ښځې د غوړو له ټیمانو ډکې کراچې سره راورسیدې. د یوې چادرې پر سر وه او بلې په یوه لوی پلو ځان پیچلی و. له سپین ږیري سره یې کومه خپلوي درلوده. خوارانو په څو میاشتنیو جګړو کې خپله هستي له لاسه ورکړې وه. په هغه ورځو کې زیاتو بې سرپرسته ښځو له جلال آباد څخه خوراکي توکي د یو څه ګټې لپاره کابل ته وړل. څو ټیمان مې د بار پر سر او څو مې د سیټونو لاندې کېښودل.

د دوبي تیز لمر د جلال آباد غرونو له شا څخه ورو ورو ښکاره کیده. لاروي چابک دیخوا هاخوا روان وو. ځکه لس بجې شاوخوا د سړي بدن په خولو خیشت پیشت کیده چې باید یې تر یو سیوري لاندې دمه کړې وای. ښار په ږیره ورو وسله والو کسانو ډک و. هر یو یې یوې خوا ته ځیر و چې څه یې لاس ته ورشي. زه د وسله والو کسانو د لیدو څخه دومره په تنګ شوی وم، چې فکر مې کاوه په نړی کې د بل هیڅ شي څخه دومره کرکه نه لرم. د جلال آباد - کابل پر لویه لار لسهاو پوستو ته پیسو ورکولو او هغوي ته د باړونو د خاوندانو زاریو دومره ځورولم، چې تصمیم مې درلود له دې پهرې وروسته، هر څه چې کیږي، د راکټو لاندې ښار (کابل) کې به ځانته یو کار پیدا کوم.

لا د درونټې تونل څخه نه وو تیر شوي چې یو مسلح ځوان پر لارې ولاړ و او په زوره یې ناره کړه: دوه لکه! سپین ږیری په زاریو شو چې ۵۰ زره لرم. وروسته زما په منځګړتوب یې یو لک ومنلې او حرکت مو وکړ. سپین ږیري تر سروبي څو لکه افغانی پاټکونو ته ورکړې. هغه خبرې نه کولې خو ځان سره په ښکنځلو ګډ و. د زرداد پوستې په لیدو سره، چې د ګلبدین یو غټ عکس یې د سرک پر غاړې لګولی و، بند بند مې وریږدید. یو مسلح کس، چې ببر او اوږده ویښتان یې وو، د لاس په اشارې موټر یوې څنډې ته وغوښت او بې له ځنډه یې ناره کړه: پنځه لکه افغانی! د سپین ږیري زارۍ پیل شوې. ما هم ورته وویل چې تر دې ځایه زیاتو پوستو له سپین ږیري څخه پیسې اخیستې. هغه

په قهرجنه کتو راته وویل: «موږ څه دلته ستاسو د اناګانو لپاره شپه او ورځ پراته یو او ستاسو د مال او ځان ساتنه کوو؟ نورو ته پیسي ورکوئ، موږ ته یې نه راکوئ؟ که دي بله خبره وکړه څلور ټوټې کوم دي!» ما چي د هغه ریږدیدلي او قهرجنه څیره ولیدله، وویریدم او چپ شوم. سپین ږیری د ښځه لکو افغانیو په شمیرلو بوخت و چي وسله وال کس د سیټ تر شا د غوړیو ټیمونه ولیدل. په غبرګو سترګو یې وویل: دا په غلا او بې محصوله تیروئ؟ چادري والا ښځه په زاریو شوه چي دا زما دي. میړه مي وژل شوی او اولادونه مي بې سرپرسته دي. زه د دې څو ټیمانو په خرڅولو د هغوی ژوند پر مخ وړم. سړي په خندا وویل: «ولي میړه نه کوې؟ که په کابل کي نه پیدا کیږي، دیخوا ته زیات دي» او ادامه یې ورکړه: «ولاړه شه د غونډۍ پر سر له قومندان څخه اجازه واخله».

ښځه ناچاره او نازړه له سیټ څخه ښکته شوه او په نفسکو غونډۍ ته وختله. قومندان چي ویښتان یې پر اوږو پراته وو، پر یوې زړې چوکۍ ناست و او ښځې ته یې ځیر ځیر کتل. کله چي ښځه قومندان ته ورسیده، سلام یې ورکړ او په کمزوري غږ یې وویل: قومندان صایب، یوازی اته پیپه غوړي لرم، کابل ته یې وړم چي د اولادونو نفقه برابره کړم. تر دې ځایه یې دوه لکه افغانۍ راڅخه اخیستي دي. په خدای که یو غران هم راته پاته وي. که مي ټوټې ټوټې هم کړې پیسې نه لرم چي در یې کړم. قومندان بې له ځنډه اوچت شو. په داسې حال کي چي ښځې ته یې پوچ ښکنځل کول، یوه داسي لغته یې په تشي کي ووهله چي خوارکۍ شاته څو ملاقه وخوړل. قومندان چي مغرور او فاتح ولاړ و، په ببر غږ خپل «مجاهد» ته ناره کړ: یو ټیم یې وګرځوه! او خپله کوټي ته ولاړ. د ښځې بوغارې او د موټر بوړنوونکی غږ داسي سره یو ځای کیده ته وا چي د تاریخ دردناکه مرثیه یې بیانوله. هغه مرثیه چي بیتونه یې د قومندان په لغته، د ښځې په ملاقونو او په اوښکینو سترګو ویل شوې وه. ښځې د خپلې دې پهرې ګټه بایللي وه. په موټر کي ټوله چپ وو. ستونی مي راډک شو. د زړه د درد احساس مي وکړ. و نه پوهیدم چي د ماهیپر له لوړو او ګولاییو څخه څنګه تیر شوم. وروستي چړایي ته چي ورسیدلو، سپین ږیري مخ راته راواړوه او ویې ویل: یوازی ۵۰ زره پاتي دي، آخري پوسته به څنګه کړو؟ لا مو څه نه وو ویلي چي ځنځیر ته ورسیدلو.

له کابل څخه د لوګي شخړې پورته کیدې او د چاودنو غږ اوریدل کیدو. تلوار مو و چي تر شپې مخکي ښار ته ننوځو. د لمر پیکه ځلا د کابل د لویدیځ پر لمن د زرهاو وژل شویو کابلیانو ویني انځورولي. یو جګ سړی چي توري عینکي یې پر سترګو وې او اږده ږیره یې وه، د موټر خوا ته راغی او ویې ویل: څلور لکه! سپین ږیری په ریږدیدو ښکته شو. وروره په خدای او قرآن قسم که بې له دغه ۵۰ زره نورې پیسی راته پاته وي. د سروبي پوستې رانه ټولې پیسی واخیستي... د سپین ږیري خبره لا پای ته نه وه رسیدلي چي چادري والا ښځې ناره کړه: وروره تر دې ځایه یې لوڅ کړو. موږ ته یې هیڅ هم نه دي پرې ایښي. ټوپکي ښځې ته وکتل. له خپلې شیطاني څیرې سره د موټر سیټ ته نږدې شو او ویې ویل: که هغه پیسې نه لرې ته خو هر شی لرې، ته په (...) کولای شی هغه خلاص کړې. چي غوښتل یې بل څه ووایي، ما وویل: موږ او تاسو ناموس لرو، دې خوارکۍ مړی ورکړی، او له ټولو کړاونو سره پر دغه خطرناکه لار د دوه لکه افغانیو لپاره تګ او راتګ کوي. تاسو دا ټوپک د ننګ او ناموس لپاره اخیستی! لا مي خبرې پای ته نه وې رسیدلي چي هغه لکه زخمي لیوه، زما خواته منډه کړه او پر مخ او سر یې په سوکانو ووهلم. ښځه د هغه د پوچو خبرو په اوریدلو سره دغوسه ناک زمري په څیر وریږدیده، په لوړ غږ یې ښکنځل پیل کړل او په یوه حرکت یې خپلې غوړوالی او ګوتمي وویستي او له سیټ څخه یې پر قومندان ور خطا کړې: واخله، دا زهر کړه!

غوړوالی او ګوتمي پر ځمکه ولویدلې، سپین ږیري سمدستي پورته او په لاس کي یې ټینګي ونیولي. زموږ د نارو په اوریدو بل ټوپکي راورسید. لومړني دویم کس ته ناره کړه: دوی پیسې نه راکوي او بدماشي کوي! هغه د ټوپک ګیټ کش کړ او څو کنداغه یې پر څټ ووهلم، یوه ګونی پولی او یوه ګونی ممپلي یې ښکته کړل. یوه یې د سپین ږیري او

بله یې زما پر شا بار کړل او په کنداغ او لغتو وهلو او ښکنځلو یې غونډۍ ته پورته کړو. ګونی مو یوې کوټې ته د یوه «رهبر» تر عکس لاندې چې په یاد مې نه دی کوم یو و، ځای پر ځای کړې. قومندان په اوچت آواز سپین ږیري ته وویل: وروسته له دې بې پیسو را نه شي، زمونږ زور د نورو پوستو تر زوره کم نه دی. چې موټر حرکت وکړ، بدن مې زیات درد کاوه او ساه مې ځیګر کې پیچل شوې و. د موټر په هنداره کې مې د سپین ږیري اوښکې لیدلې چې لکه دوې ویالې د هغه د سپین مخ پر دواړه خواو بهیدې، چې ښار ته تر ننوتو پورې وچې شوې.